## دافغانستان په ټول ټاکنو کی د درغليو دله منځه وړلو په موخه د اروپايی ټولني د ټاکنيزه څارونکو له خوا دچټکو اصلاحاتو غوښتنه

**مطبوعاتي اعلاميه:**

**نيټه : د۲۰۰۹ کال د ديسمبر ۱۶ کابل -** دافغانستان ۱۳۸۸کال د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو ټول ټاکنو لپاره د اورپايي ټولني دڅارني ماموريت ، د افغانستان د اصلاحاتو بهير سره د مرستي لپاره نن يو لړ وړانديزونه خپاره کړل. د دغو وړانديزونو موخه په ټاکنيزه بهير کې ړونوالي او په راتلونکو ټو ل ټاکنو کې د درغليو د پيښو کمول دي. دا وروستي راپور د اروپايي ټولنې د ټاکنو دڅارني ماموريت د لمړني راپور چي د ۲۰۰۹ کال داګست په ۲۲ او د سپټمبر په ۸ نيټه خپور شو، په دوام خپريږي. ، دهغو ارزونو له مخی چي د ټول ټاکنو دخپلواک کميسيون د وکړل شويو احصاييو له مخي شوی وه، په ټاکنو کي د پراخو درغليو په اړه خپله جدي اندېښنه څرګنده کړه.

د اروپايی ټولني د ټاکنو دڅارني ماموريت د۵۲ کلن سر څارونکې شاغلی **تايس بيرمن** چي د هالنډ د پارلمان غړي هم دي ، روانه اووني بيرته کابل ته راغې ، ترڅو خپل د څارني وروستۍ راپور افغان دولت، د ټاکنو مامورينو ، سياسي ګوندونو او مدني ټولنو ته وړاندي کړي.شاغلي بيرمن په تير نوامبر کی د خپل فرانسوي همکار شاغلی **فيليپ مورغيون** پر ځاي د سر څارونکي په توګه وټاکل شو. شاغلي فيليپ د ټاکنو د ورځي څخه وړاندي او د ټاکنو پرمهال او همدارنګه د ولسمشرۍ ټول ټاکنو په لمړي پړاو کې د اروپايی ټولني د ټاکنو د سر څارنکې په توګه دنده درلوده.

ددغه ماموريت وروستي راپور د ټول ټاکنو د خپلواک کميسيون او د راي ورکوونکو د نوم ليکنې په برخه کي دوه مهم وړانديزونه په بر کي نيسي . چي لمړي د ټول ټاکنو د اداري ناپيليتوب او خپلواکي بايد پياوړي او تقويه کړاي شي ، همدارنګه په دقيقه او متوازنه توګه دهغې کارکوونکي وګمارل شي ، او په ځانګړي توګه ددي ډاډ ترلاسه کړاي شي چي ددغه کميسيون غړي يوازی د جمهوری رياست له خوا نه ټاکل کيږي. او دوهم دا چي د نوم ليکني د منظمي کړنلاري رامنځته کول اړين دي. بايد هيڅ ډول ټول ټاکني پرته د کره او با اعتباره نوم ليکني له پروسي څخه رامنځته نشي. د نوي نوم لکيني د معلوماتو راټولو بهير بايد په لنډ وخت کي سرته ورسيږي. دغه بهير بايد د هغو کسانو نوم ليکنه په بر کی ونيسی کوم چي د راي ورکولو په شرايطو برابر نه دي ، خو د راتلونکو ټول ټاکنو پر مهال د راي ورکولو قانوني سن ته رسيږي.

د وړاندي شويو وړانديزونو ترڅنګ چي په رپوټ راغلي دي د نوماندانو د ټاکني بهير بايد په بشپړه توګه اصلاح شي ،ترڅو د پرمختللو درغيلو مخه ونيول شي.د نوماندانو د ټاکني بهير کي دهغو کسانو نومونه بايد ځاي ونلري ،کوم چي د بشر دحقونو څخه په سر غړاوي او غيري مسوولو وسلوالو ډلو ټپلو سره په اړيکو درلودلو تورن دي.د ټاکنيزه ارګانونو د اعتبار د ساتني لپاره ، هغو کسانو سره بايد قانوني چلند وشی ، کوم چي په درغيلو کی ښکيل ول. برسيره پر دي په ټاکنو کي د ونډي اخيستو لپاره ښځو ته بايد اسانتياوي رامنځته شي.دا راپور همدارنګه په کلکه توګه د نړيوالي ټولني څخه غواړي چي له افغاني ارګانونو او ټاکنيزه بنسټونو څخه خپل ملاتړ تازه کړي.

**نن د راپور د خپرولو پرمهال شاغلي بيرمن وويل:** "چي د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو ټول ټاکني د اروپايی ټولني د ټاکنو د څارني ماموريت له خوا وارزول شوي ، دغه ټاکني د پراخو درغليو له امله متآثره شوي.دا ډيره مهمه ده چي داسي لاري چاري پيدا کړاي شی ، ترڅو په راتلونکي کي دغه ډول پيښي رامنځته نه شي. اوس دا دافغانستان ولسمشر ، افغان دولت او نړيوالي ټولني پوري اړه لري چي ديموکراتيکه ټولني حمايه کړي."

"او په دي کار کي بايد ځنډ رامنځته نشي. مهمه موضوع دلته دافغانستان د ديموکراتيکو ادارو قانوني والي دي ، نه يوازي دافغانانو له نظره ، بلکي دهغو هيوادونو دخلګو له نظره هم بايد وليدل شي کوم چي له افغانستان سره مرستي کوي ، او دا چي د دوي ځواکونه دلته خپل ماموريت سم پرمخ وړي.افغانستان هغه وخت کولاي شی چي بيرته په خپل برخليک بشپړ کنټرول ترلاسه کړي ، چي اغيزمنه او حساب ورکوونکي اداري رامنځته کړي. او دا هغه څه دي چي افغان ولس يی هيله لري."

په ټوليزه توګه په وروستي رپوټ کي دافغانستان اسلامی دجمهوري دولت ، د ټول ټاکنو اداري ، سياسي ګوندنو ، مدني ټولنو او نړيوالي ټولني ته ۳۷ وړانديزونه شوي دي.دغه رپوټ په انکليسي ، پښتو او دري ژبو چمتو شوی دي. دغه رپوټ د اروپايی ټولني د ټاکنو دڅارنی ماموريت په لاندنی ويب پاڼي کی ترلاسه کولاي شي.

www.eueom-afghanistan.org

**ايديټرانو ته يادابښت:**

د اروپايي ټولني د ټاکنو د څارني ماموريت ، دافغانستان د اسلامی جمهوريت په رسمي بلنه افغانستان ته راغي ، ترڅو د ۲۰۰۹ کال د ټول ټاکنو بهير د نړيوالو معيارونو او د افغانستان د کورنيو قوانينو پر بنسټ وارزوي. دغي ماموريت د ۲۰۰۹ کال د جولاي له دوهمي نيټي څخه دهمدي کال د نوامبر تر ۶ نيټي پوري له خپلو ۱۲۰ څارونکو سره دلته حضور درلوده. که څه هم د دوي ماموريت د ټول ټاکنو په ورځ د عمومي امنيتی محدويتونو او پراخو تاوتريخوالو له امله يو څه متآثره شو ، خو بيا هم د دوي څارونکي د هيواد د ۳۴ ولايتونو له ډلي څخه د ۱۷ ولايتونو د ۲۶۸ رای ورکولو مرکزونو په پرانيستلو او رايو شميرلو بهير کی حضور درلوده.

**د ټول ټاکنو څارنه** ،د بشر حقونو ته درناوي ، خپلواکې پرمختيا او د قانون د حاکيمت د پراختيا لپاره د اروپايي ټولني د بهرنې پاليسی له مهمو کارونو څخه ده .اروپايي ټولني تراوسه کابو ۸۰ ټول ټاکنو څخه په دريو وچو کي ، د نړيوالو معمولو معيارونو او د ټاکنو د څارني نړيوالي اعلاميي د اصولو پربنسټ چي د ۲۰۰۵ کال د اکتوبر په مياشت کی د ملکرو ملتونو په ملاتړ تصويب شوه ، څارنه کړې ده.

دلازياتو معلوماتو لپاره هيله ده چي لاندني شميري سره اړيکه ټينګه کړي:
داروپايي ټولني د ټاکنو دڅارني ماموريت مطبوعاتي مرستيال، +۹۳۰۷۰۶۲۲۱۳۷۷
ويب پانه :
www.eueom-afghanistan.org